


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : ۳۰ جولاى ۲۰۱۳ ميلادى

ګرانو او محترمو دوستانو :

د مقدونيا د هيواد د نامتو شاعر د يميتري پاوليف چوپوفسکی ( 1878 – 1940 ) د ښکلو شعرونو ژباړه تاسو ته وړاندی کووم هيله مند يم چی خوښ موشی.....( دا شعرونه حتمي ولولي. ته به وايي چي افغان شاعر ليکلي اوسي )

# د مقـــدونی دوعا

خدايه ، مهربانه خدايه!!!
مونږ په دغو ورځو کی يواځی مه پريږده.......
مونږ ته روغتيا راکه او وساته.
ای خالقه د دنيا
د سلوانيانو ذات غښتلی که
د لوږتيا او برى غيږ ته يی بيرته وګرځوه
دا خوار او غريب قوم.
خوار او ستومان ته زړه ورکه
خلک نور ناتوانه مه پريږده
له خرڅ شوى او ناولو خلکو نه
مقدونيا وساته ......
په خپل ذات د زړه له کومی مين
وساته
تول بچيان له روښانو ځمکو
وطن لپاره يو موټی که......
خدايه وينی څومره غم او بدبختی ده

**خپل پام دی له اسمانه دیخوا واړوه.**
**دی غروته ، جهیلو ته ،**
**دی درو او ځنګلو ته**
**پکښی زمونږ روح پروت دی**
**د خواری او غم پیاله**
**د مقدونیانو تر پایه ډکه ده ...**
**دا ځمکه دا زمونږه ځمکه په تمه ده**
**چی مینه به راشی**
**او وینی تویدل**
**به پای ته ورسیږی**
**خدایه ! خدایه ! لویه خدایه !**
**عقل منده که مونږ او وبښه.....**
**او د مقدونیانو انتظار**
**د روښنایی لپاره پای ته ورسوه ...**

****

**مقدونیانو !!! د خدای په رضا**
**سلاح به آخلو**
**او د کور مخ کی به قسم خورو**
**چی له خپل کورو نه به دفاع کوو !**
**زمونږ کور ـ وطن دی**
**تول تاتوبی کی.....**
**اوس**
**سپکاوی او غندنه ځای نیولی.**
**آباګان ، نیکان**
**او خپل بچیان مو چیغی وهی**
**چی دا غم وشړی .....**
**او د دغه مقدس او سپیڅلی بیرغ**
**لاندی مخ په وړاندی ځو**
**او د اخووت او میرانیتوب قدم سره**
**جنګ ته درومو خپلو خلکو لپاره !**

*****

**د محب الرحمن « خطیبي » ژباړه**

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org